# هند؛ د اقلیتونو په ملاتړ کې د ډېموکراسۍ د ماتې بېلګه

د نړۍ په لویه ډېموکراسۍ (هند) کې مسلمانان د بهارت جاناتا اوسني حاکم ګوند د پالیسیو له امله د له منځه تلو سره مخ دي. د دغه ګوند په مخکیني حاکمیت کې ثلاثه طلاق، د ښځو له بشري حقونو څخه سرغړونه ګڼل شوی و. له دې امله د اسلامي ټولنې تر منځ غوغا رامنځته شوه او پر اسلامي شریعت ښکاره برید وګڼل شو. دا ګوند په خپل دویم حاکمیت کې چې د «موډي ۲» په نامه یادیږي، د هند پر مسلمانانو لازیاتې فشار راوړونکې پالیسۍ پلي کوي، چې بېلګې یې د ۳۷۰ مادې او د بابري جومات د فتوا تعدیل دی. د استوګنې د قانون تعدیل (CAA2019) یې اوسمهال یوه بله بېلګه ده. مسلمانانو چې د دغه ګوند د پالیسیو بې عدالتي او فشار حس کړ، نو د یاد ګوند ایډیالوژي یې وغندله. د هند دواړه لویې ډلې (BJP) ګوند او (RSS) (Rashtriya Swayamsevak Sangh) ډله په تېره لسیزه کې د هندوانو تر منځ د هندوتوا فکر لپاره کار کوي او غواړي هندوان سره یوځای کړي. دا لوی هندو ځواکونه اسلامپاله او هندو ملتپاله پېژندنې او په کارولو سره یې د هندوانو د اکثریت په یو ځای کولو کې بریالي دي.

مسلمانان باید په دې ستونزه پوه شي، چې څرنګه د هندوتوا ځواکونو په خلکو کې نفوذ کړی دی. د دغې ستونزې ریښه د ډیموکراسۍ په نظام کې نغښتې ده. د ډیموکراسۍ د نظام دغه نیمګړتیا باید ټولو ته په ډاګه شي، چې د مسلمانانو اصلي عامل پیداکړي او په بله حللاره پسې و نه ګرځي.

## ډیموکراسي او اکثریت پالنه

دیموکراسي د خلکو قانون ته ویل کېږي. د خلکو قانون دوو مهمو اړخونو (تقنین او رایه ورکولو) ته اشاره کوي. تقنین دې ته وایي، چې خلک د یو شي په اړه دا تصمیم ونیسي، چې ایا قانوني دی او که ناقنونه. رایه ورکول د خلکو حق ته ویل کیږي، ترڅو خپل حاکم وټاکي. په بله وینا، واک بیا د خلکو په لاس کې دی. په پایله کې هر ګوند چې د خلکو ډېر ملاتړ ولري، ځواکمن دی. دا په طبیعي توګه په ډیموکراسۍ کې د سیاسي ګوندونو د رامنځته کېدلو عامل ګرځي، چې د رنګ، توکم، ژبه، دین او نورو موضوعاتو پر بنسټ خلک سره بېل کړي. په دې توګه د اکثریت ډله د اقلیت له ډلې څخه بېلېږي، چې هره یوه یې بېلابېلې ځانګړنې لري. له دې وروسته هغه سیاسي ګوندونه په طبیعي توګه ګټونکي وي، چې د اکثریت ډلې ګټې خوندي کوي. هغوی واک ته رسیږي او له اکثریت څخه استازیتوب کوي. په پایله کې اقلیت ډله او د هغوی ګټې په پام کې نه نیول کېږي، تر دې چې د اکثریت په خوښې له اقلیتونو سره ظلم او ناروا کېږي.

هند د نړۍ هغه هېواد دی، چې د ټولې ډیموکراسۍ په پلي کېدو کې نوم لري، خو بیا هم پر اقلیتونو د فشار یوه لویه بېلګه ده. د «BJP» ګوند او د هغوی مشاوره ډله د واک تر لاسه کولو ته هڅې کوي. هندوان چې د هند

۸۰سلنه نفوس جوړوي او د هندو ملتپالنې فکر نه يوازې د «BJP» ګوند د واک ته رسېدو وسيله ده، بلکې د اپوزيسيون د کانګرس سياسي ګوند واک ته د رسېدو لپاره هم يوه وسيله ده. دا دواړه ګوندونه د اقليتونو د ګټو پر وړاندې د خپلو پاليسيو په پلي کولو کې ډېره سختي کوي. يوه ښه بېلګه يې د بابري جومات موضوع ده، چې په هغې کې د هندوانو پر ګټه ډېر پرمختګونه وشول او د کانګرس ګوند واکمن و او په ۱۹۹۲م کال کې بابري جومات ونړول شو. د بابري جومات له نړولو يو څو کاله وروسته په ۱۹۹۵ کې سترې محکمې يو حکم وکړ، چې د هندوتوا کليمې کارول يې قانوني کړل. دغه کلمه ټوليز او سېکولر ضد معناګانې لري.

### اسلام د ډيموکراسۍ په څېر ظالمانه طبيعت نه لري

د اسلام سياسي نظام يا خلافت د ډيموکراسۍ په څېر نيمګړتياوې نه لري. د اسلام د حکومتي سيستم ځانګړنې په لاندې ډول دي:

۱. اصلي موخه يې د شريعت پلي کول دي.

لېبرال سېکولر نظام يو لړ اساسات لري؛ لکه د بيان ازادي، د مذهب ازادي، د جنسيت مساوات او فردي ازادي، چې له دغې لارې د خلکو چارې تنظيموي. دا اساسات تل له يو بل سره په ټکر کې دي او تل دا ګنګوسې وي چې په يوه موضوع کې کوم يوه ته لومړيتوب ورکړل شي. له همدې امله موږ د مذهب د ازادۍ او د جنسيت د مساواتو تر منځ تناقض وينو. د بيان ازادۍ او د نورو د حقونو د ساتلو تر منځ ټکر هغه مهال ليدل کيږي، چې يو څوک د نفرت د ښکاره کولو الفاظ وکاروي. د لېبرال سېکولر نظام دغه اساسات له ډېرو تناقضونو سره مخ دي او مشرانو ته دا اجازه ورکوي، چې په کارولو سره يې اقليتونه وځپي.

د خلکو د خوښې او هيلو پر بنسټ قوانين نه جوړوي. خلافت د شريعت د قوانينو پر بنسټ ولاړ دی، چې اساس يې قران او سنت جوړوي. په دې سره اکثريت ته اجازه نه ورکوي، چې ظالمانه قوانين پر اقليتونو پلي کړي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ﴾**

[يوسف: ۴۰]

***ژباړه:*** *د حکم کولو حق يوازې له الله سبحانه وتعالی سره دی.*

۲. د ذمي د قوانينو د نه پلي کولو پايله:

د خلافت اوسېدونکي په مسلمانانو او ذمیانو وېشل شوي دي. ذمي هغه کس دی چې په خلافت کې ژوند کوي او جزیه ورکوي. له شریعت سره سم باید له ذمي څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دغې وینا پر بنسټ ملاتړ وشي:

ابو هریره رضی الله عنه روایتوي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«أَلاَ مَنْ قَتَلَ نَفْسًا مُعَاهِدَةً لَهُ ذِمَّةُ اللَّهِ وَذِمَّةُ رَسُولِهِ فَقَدْ أَخْفَرَ بِذِمَّةِ اللَّهِ فَلاَ يَرَحْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ وَإِنَّ رِيحَهَا لَيُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ سَبْعِينَ خَرِيفًا»**

[ترمذي: ۱۴۰۳]

***ژباړه:*** *که چېرې یو څوک هغه معاهد وژني، چې د الله سبحانه وتعالی او رسول صلی الله علیه وسلم ذمه لري، نو هغه د الله سبحانه وتعالی او رسول صلی الله علیه وسلم ذمه نقض کړې او د جنت بوی به حس نه کړي؛ که څه هم چې د جنت بوی له ډېر لېرې یعنې ۷۰ منی (د کال فصل) څخه حس کېږي.*

له صفوان بن سلیم څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«أَلَا مَنْ ظَلَمَ مُعَاهِدًا أَوْ انْتَقَصَهُ أَوْ كَلَّفَهُ فَوْقَ طَاقَتِهِ أَوْ أَخَذَ مِنْهُ شَيْئًا بِغَيْرِ طِيبِ نَفْسٍ فَأَنَا حَجِيجُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»**

(سنن ابوداوود:۳۰۵۲)

***ژباړه:*** *که چېرې یو څوک له یو تړونکوونکي سره ظلم وکړي، حقوق یې تر پښو لاندې کړي، له اندازې ډېر کار پرې وکړي او له اجازې پرته یو څه ترې واخلي، نو د قیامت په ورځ به زه د مظلوم ملاتړ کوم.*

په اسلام کې د ذمي له ځان، مال او عزت څخه ملاتړ کول واجب دي. د هغوی د حقونو په تړاو هر ډول بې عدالتي د دولت لپاره ډېره مهمه مسله ده او دولت باید د ذمیانو له حقونو څخه ملاتړ وکړي. تاریخ د عسویانو او یهودانو پر دغې ادعا ګواه دی، چې د اسلام تر سیوري لاندې اوسېدل د هغوی د ژوند تر ټولو زرین وخت و.

**پایله**

د (BJP) ګوند او د هغوی هندو نشنلېست مشاورین د دېموکراسۍ چټله څېره خلکو ته څرګندوي، ترڅو د هندو دولت اجنډا پلې کړي. دا یوازې په هند نه، بلکې په اسیا، اروپا او امریکا کې هم سیاسیون او سیاسي ګوندونه

واک ته د رسېدو په موخه د ډیموکراسۍ ذاتي عیب او نیمګړتیا په ډاګه کوي. د دې لپاره چې مسلمانان یوې حللارې ته ورسېږي، باید د دغې ستونزې پر سرچینې سم پوه شي. دا به د دوی لپاره یو لوی ګوابن وي، چې حللاره په هغه سازمان کې ولټوي چې خپله د ستونزې سرچینه ګڼل کېږي. مسلمانان باید د ډیموکراسۍ بشري نظام رد کړي، ځکه په نړیواله کچه د ظلم هغه اصلي سرچینه ده، چې پر ټولو اقلیتونو یې خپلې وزرې غوړلولې دي. مسلمانان باید د الله سبحانه وتعالی پر دین منګولې ټینګې کړي، ځکه د بشریت لپاره یوازینی هغه بشپړ نظام دی چې په اساسي توګه د مسلمانانو او کفارو ملاتړ کولی شي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ﴾**

[۸:۲۴]

***ژباړه:*** *اې مومنانو! د الله سبحانه وتعالی او پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغې بلنې ته لبیک ووایئ، چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم مو ورته رابولي او تاسو ته ژوند در بښي.*

**د حزب التحری مرکزي دفتر ته**

**د عبدالفتاح ابن فاروق لخوا**